# د کانونو د سکتور لپاره د اداري فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی د خپلواکې ګډې کمیټې نوې سپارښتنه

## د افغانستان د استخراجی صنعت د روڼتیا نوښت ته د کانونو د عوایدو د رپوټ ورکولو د ټاکلي حد د راکمولو په پایله کې به د روڼتیا کچه لوړه او د اداری فساد لپاره به موکې راکمی کړی شي

اوس مهال د کانونو هغه عواید چې مبلغ یې تر ۷،۵ ملیونو افغانیو ډېر وي باید د افغانستان د استخراجی صنعت د روڼتیا د نوښت اداري ته یې په اړه رپوټ ورکړی شي. دا چې اوسنی حد یوازې شپږ کمپنۍ مکلفوي چې د نوموړې اداري سره ثبت او راجستر شي او په دې توګه د عوایدو یو ډېر ستره برخه پرېږدي چې له رپوټ ورکولو پرته تیره شي.

**<u>سپارښتنه ۱.۶ :</u>** د ګڼو شریکانو ډله ( چې په هغی کی د حکومت، صنایعو او د مدني ټولنې له استازو ) څخه جوړه ده باید د عوایدو د رپوټ ورکولو لپاره د نوموړې مادي اندازی کچه د مارکیټ د کیفیتي ارزونې پر بنسټ، را ټیټه کړي. نوی ټاکونکی اندازه باید دا چاره ډاډمنه کړي چې ډېری هغه کمپنۍ چې د افغانستان د کانونو په صنعت کې فعالیت کوي او په همدې توګه د عوایدو هغه ډېری برخه چې د دې صنعت له لارې پیدا کیږي باید د له اداري سره ثبت او له ور سره تطبیق شي.

**<u>بینچمارک:</u>** د رپوټ ورکولو لپاره په یوه ښکته اندازی ټاکلو باندی موافقه او په ۶ میاشتو کې اړونده غوښتنې پلی کیږی

**<u>د تمې وړ پایلې:</u>** د افغانستان د استخراجی صنعت د روڼتیا نوښت اداري ته د عوایدو د رپوټ ورکولو لپاره د مادي اندازی د کچې راښکته کول به د کانونو په سکتور کې د روڼتیا او حساب ورکولو کچه لوړه کړي